IOM
UN MIGRATION

# د بې اسناده افغان کډوالو راستنېدنه
## اونيز راپور
## ۱۳ - ۱۹ اګست ۲۰۲۱



له ایران څخه د شړل شويو افغان کډوالو جريان ساعت په ساعت، ورځ په ورځ او اونۍ په اونۍ زياتيږي دا په داسې حال کې ده چې د نیمرو په څیر ځایونو کې د تودوخې درجه له ۵۰ درجې سانتی ګراد څخه پورته کيږي،ای او ام  په اړينه توګه نوي  مالی تمويل ته اړتيا لري ترڅو د رارسيدو وروسته بشردوستانه مرستو ته دوامداره چمتو کولو ډاډ ترلاسه کړي. @ ای او ام ، اګست ۲۰۲۱

## اړين ټکي-۲۰۲۱

د روان کال ۲۰۲۱ جنورۍ میاشتې د شروع څخه تر دا مهاله له ایران او پاکستان څخه ټولیزه راستنېدنه– **۷۵۹،۰۴۶** وګړي.

په ۲۰۲۱ میلادی کال کې له ایران څخه **۷۵۲،۰۱۳**کډوال راستانه شوی دی چې د تیرې اوونۍ په جريان کې له ایران څخه **۲۲،۰۰۱** بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه  ٪۰،۱ او یا  ۳۲ انفرادی وګړی چې (۱۸ نارینه او ۱۴ ښځینه)  کيږی مرسته شوی ده..

په ۲۰۲۱ کې له پاکستان څخه **۷،۰۳۳** کډوال راستانه شوی دی چې د تیرې اوونۍ په جريان کې له پاکستان څخه **۶**بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه  ٪۰مرسته شوی ده.

**تمويل اړتیاوې** :په ۲۰۲۱ میلادی کال کې د ۲۹،۷ ملیون ډالرو د تمويل غوښتنې پروړاندې دکډوالۍ نړیوال سازمان یوائې ٪۵ ددې مرستو څخه ترلاسه کړی ده.

## د بې اسناده راستنیدونکو کډوالو سره د کډوالی نړیوال سازمان په وخت مرستې

**د کډوالو روغتیا:** ۲۰۲۱ کال د شروع څخه تر اوسه پورې IOM د کډوالو روغتیا پروګرام په نیمروز، هرات، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې ۲۰۹،۲۶۳کورنیو ته د لومړنیو لازمي روغتيا پاملرنې خدماتو عمومي ناروغیو ، مور ، ماشوم او نوي زیږون روغتيايي پاملرنې ، د زیږون روغتیا ، کورنۍ د پلان کولو د کویت ۱۹ خدمات وړاندی کړی دی. او دا برنامه د بیړنیو کمکونو وجهي صندوق (CERF)، د امریکا د متحده ایالاتو د نفوس، کډوالۍ او مهاجرت (BPRM) او د افغانستان لپاره بشردوستانه وجهي صندوق (AHF)  لخوا یې مالی ملاتړ کیږي .

د IOM ګرځنده روغتيايي ټیمونو لخوا اوونیز روغتيايي خدمات وړاندی شوی دي چې په شمول د بستر ناروغانو ته مشورې، ښځو  او نارینو ته د ټولنې په کچه روغتیا تعلیم زده کړې  او ناروغانو ته رواني مشورتي ناستې ترسره شوې دی او همدارنګه د کډوالو روغتیا پروګرام د نړیوال وجهي صندوق او د څو هیوادونو د نری رنځ او د UNDP سره په ملګرتیا فنډ لاندې په هرات، نیمروز، کندهار او ننګرهار ترانزیټ مرکزونو کې دنری رنځ تشخیص او دنمونو معاینات ترسره شوی دي.

په ټول هیواد کې د اوسني بې ثباته وضعیت له امله، روغتيايي خدمات تیره اونۍ په موقت ډول سره وځنډول شول او د راپور ورکولو دورې پرمهال هیڅ ناروغ ته خدمت ترسره نه شو.

## خوندیتوب:

خوندیتوب: د IOM د خوندیتوب برنامې په ۲۰۲۱ جریان کی  ۲،۱۲۱ غیر راجستر کورنیو چی( ۲،۸۳۶ ښځینه، ۲،۶۵۸ نارینه، ۴،۳۹۶ انجوني او ۴،۹۷۸ هلکان) سره چي ځانګړې قضيي هم په کې شاملې دی مرستې تر سره کړی چې په وخت سره معلوماتو چمتو کول، خدماتو ته په وقار او خوندي ډول لاسرسي اسانولو، او د پیسو په شمول د مرستې چمتو کول ترڅو ددې لارې د خوندیتوب پیژندل شویو خطراتو کمولو لپاره او منفي تاکتیک میکانیزمونو څخه مخنیوی کول کله چې د راجع کولو خلا موجوده وه.

### مونږ سره په اړیکه کی شی:

د کدوالی نړیوال سازمان کابل:  iomafgcrossborder@iom.int
http://afghanistan.iom.int
facebook.com/iomafghanistan
twitter.com/iomafghanistan

**د ایران څخه راستنېدنه:** د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۲۲،۰۰۱ بې اسناده افغان کډوال په خپله خوښه د نیمروز (میلک) او هرات (اسلام قلعه) له لارې د ۲۰۲۱ میلادی کال د ۱۳ اګست څخه د اګست تر ۱۹ نېټې پورې بیرته هېواد ته راستانه شوي او یا شړل شوي دي، چې ۵،۰۵۳ افراد په خپله خوښه راستانه شوی او۱۶،۹۴۸شړل شوی دي. د ۲۰۲۱ لمریز کال دجنوری د لومړۍ نېټې څخه تر اوسه پورې په عمومي توګه (۷۵۲،۰۱۳) بې اسناده افغان کډوال د ایران څخه راستانه شوی دي.

**د پاکستان څخه راستنېدنه:** د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۷،۰۳۳ بې اسناده افغانان په خپله خوښه د پاکستان څخه د ۲۰۲۱ جنورۍ د ۱ نېټې څخه بیرته خپل هیودا ته راستانه شوي دي. د تیرې اوونۍ کې په مجموعي توګه ۶ بې اسناده افغان کډوال چې (۶ راستانه شویو کورنۍ غړی) د تورخم پولې له لارې له پاکستان څخه بیرته خپل هیواد ته راستانه شوي دی. د وروستي جنګونو له امله د جولای ۵ نیټې څخه د سپین بولدک پوله او ۱۵ د اګست نه تورخم پوله کې د مرستو لړۍ لنډمهاله توکه بنده کړی ده.

## په ۲۰۲۱ کال کې د بې اسناده راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نېټه | ایران: هرات – خپله خوښه | ایران: هرات – شړل شوی | ایران: نیمروز – خپله خوښه | ایران: نیمروز – شړل شوی | د ایران مجموعه | پاکستان: تورخم – خپله خوښه | پاکستان: تورخم – شړل شوی | پاکستان: قندهار – خپله خوښه | پاکستان: قندهار – شړل شوی | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۰۱ جنورۍ - ۳۰ جون | 211,821 | 148,993 | 65,713 | 174,627 | 601,154 | 1022 | 276 | 5237 | 250 | 6,785 | 607,939 |
| ۰۱ جولای - ۰۵ اګست | 27,099 | 28,607 | 11,533 | 33,579 | 100,818 | 173 | 4 | 16 | 0 | 193 | 101,011 |
| ۰۶ -۱۲ اګست | 5,793 | 8,218 | 1,518 | 12,511 | 28,040 | 49 | 0 | 0 | 0 | 49 | 28,089 |
| ۱۳ -۱۹ اګست | 4,325 | 7,865 | 728 | 9,083 | 22,001 | 6 | 0 | 0 | 0 | 6 | 22,007 |
| **مجموعه** | **249,038** | **193,683** | **79,492** | **229,800** | **752,013** | **1,250** | **280** | **5,253** | **250** | **7,033** | **759,046** |

## په ۲۰۲۱ کال کې د مرسته شویو راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نېټه | ایران: هرات – خپله خوښه | ایران: هرات – شړل شوی | ایران: نیمروز – خپله خوښه | ایران: نیمروز – شړل شوی | د ایران مجموعه | پاکستان: تورخم – خپله خوښه | پاکستان: تورخم – شړل شوی | پاکستان: قندهار – خپله خوښه | پاکستان: قندهار – شړل شوی | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۰۱ جنورۍ - ۳۰ جون | 1,581 | 10,351 | 878 | 12,419 | 25,229 | 1,019 | 244 | 5093 | 210 | 6,566 | 31,795 |
| ۰۱ جولای - ۰۵ اګست | 115 | 1,790 | 113 | 1,972 | 3,990 | 173 | 4 | 16 | 0 | 193 | 4,183 |
| ۰۶ -۱۲ اګست | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 49 | 0 | 0 | 0 | 49 | 49 |
| ۱۳ -۱۹ اګست | 0 | 0 | 0 | 32 | 32 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 32 |
| **مجموعه** | **1,696** | **12,141** | **991** | **14,423** | **29,251** | **1,241** | **248** | **5,109** | **210** | **6,808** | **36,059** |




په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له ټولو لاندینو بسپنه ورکونکوو ، تمویلونکو نه مننه او قدرداني څرګندوی. د نوموړو تمویلونکو ، مالي ملاتړو په مرسته د کډوالۍ نړیوال سازمان وتوانید چې په ۲۰۲۱ میلاد کال کې ۳۶،۰۵۹بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته ترسره کړه.

United Nations CERF Central Emergency Response Fund
The Global Fund To Fight AIDS, Tuberculosis and Malaria
AHF Afghanistan Humanitarian Fund

in coordination with

جاپان، د امریکا متحده ایالات، سویس، ایکو (د اروپايي اتحادې بشري مرستو څانګه) د بیړنیو کمکونو وجهي صندوق (CERF)، دنړۍ رنځ، ایډز او ملاریا نړیوال وجهي صندوق او د افغانستان لپاره بشردوستانه وجهي صندوق (AHF).